مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباري جهاني ۲۰۱۸/۱۰/۰۸

# له پردیو سره د پردو تر شا د سولي خبري

د یکشنبې په ورځ، د اکتوبر پر اوومه نېټه، بیا هم د پخوا په څېر، د ویرژلو خبرونو باران وو. په خبري رپوټونو کي راغلي وه چي طالبانو د سیدآباد د اولسوالۍ د پولیسو قوماندان او څو تنه پولیس وژلي دي. په غزني کي یې څلور پلونه وران کړي دي. په کابل کي د دوو چاودنو په اثر یوولس تنه وژل سوي او یو شمېر نور ټپیان سوي دي. د کندهار د معروف په اولسوالي کي د واده پر ورا باندي په هوایي حمله کي څلور تنه وژل سوي او د ناوي په شمول، یو شمېر نور ټپیان سوي دي. د طالبانو خبري آژانس وایي چي د الخندق د عملیاتو په ترڅ کي یې، د سیدآباد پر اولسوالۍ باندي په حمله کي د پولیسو قوماندان، جنایي آمر، د اربکیانو دوه قوماندانان او پر لس هاوو پولیس وژلي او ټول دولتي تاسیسات او پوستي یې فتح کړي دي. په فاریاب کي د پښتون کوټ په اولسوالي کي یې یوه پوسته فتح کړې او دوولس تنه عسکر یې وژلي دي. په پکتیا کي یې درې رینجر موټرونه تخریب کړي او پنځلس عسکر یې وژلي دي. خبري آژانسونه دغه راز وایي چي د غزني، وردګ، لوګر او پکتیا په ولایتونو کي برېښنا قطع سوې ده( ګواکي پخوا یې بشپړه برېښنا درلوده!) البته د برېښنا وزیر ژمنه کړې ده چي د امنیت له ټینګېدلو سره به د برېښنا مزي بیرته ترمیم سي او دې سیمو ته به بیرته برېښنا اعاده سي. دا هغه خبرونه او رپوټونه دي چي خبري آژانسونه او ورځپاڼي د رپوټ خپرولو په ارزښت ورته قایل سوي دي. نور نو، له فاریاب څخه نیولې تر نیمروز پوري، د هیواد په هره سیمه کي، هره ورځ او هره شېبه ، ناورې او نا دودي رواني دي.

دا د یوې ورځې ویرژلي خبرونه وه. البته په افغانستان کي هره ورځ او هر شېبه تر دې هم ناکراره او یا نسبتاً کراره تېرېږي. که د کابل په دوو چاودنو کي، خدای مه کړه، سل تنه او یا زیات کسان وژل سوي وای؛ اوس به اولسمشر اشرف غني اعلامیې صادري کړي، بیرغونه به نیم ځوړند او طالبانو ته به یې یو ځل بیا اخطار ورکړی وای چي نور نو د حکومت زغم او حوصله پای ته رسېدلې او په تعرضي عملیاتو پیل کوو او ګناه به یې د هغو کسانو په غاړه وي چي سوله نه غواړي. پخواني اولسمشر حامد کرزي به یو ځل بیا پر ستوني زور کړی او ویلي به یې وای چي نور طالبان د ده ورونه نه دي بلکه د هیواد د دښمنانو په سترګه ورته ګوري. په داسي حال کي چي یوولس تنه او سل تنه یوازي د کمیت خبره ده. د سیدآباد د اولسوالۍ ځوانیمرګ قوماندان، د کابل د ښار یو مظلوم دوکاندار او د معروف د اولسوالۍ د واده ګډون کونکي هر یو جلا جلا، په امنیت او سوله کي، د ژوند کولو حق لري او حکومت د هر یوه د سر د ساتني مسئولیت په غاړه لري. یو تن او سل تنه دواړه یوه خبره ده.

تردې ویرژلي مقدمې چي را تېرسو، د افغانستان د سولي مذاکراتو ته به د تاریخچې له اړخه نه، چي د یوه کتاب کار دی، بلکه د پرنسیپ له اړخه یو نظر واچوو. د ۱۹۸۰ د لسیزي د وروستیو کلونو څخه، په دې زیات وکم دېرشو کالو کي، چي په افغانستان کي د سولي د ټینګېدلو په باره کي هر ډول خبري سوي دي نو د افغانستان د اولسونو اراده په هیڅ توګه پکښي څرګنده سوې نه ده. د ۱۹۸۰ د لسیزي په وروستیو کلونو کي، د ژینیو د سولي په خبرو کي، د افغانستان حکومت ته ځکه چا برخه نه ورکوله چي هغه یې د شوروي اتحاد ګوډاګی باله او په استازیتوب یې پخپله شوروي اتحاد برخه اخیستله. د مجاهدینو مشرانو ته، چي د داوود خان او ان د ظاهرشاه له زماني څخه د ذوالفقارعلي بوټو او آی ایس آی ربړه خواره وه، چا د سرېو په سترګه نه کتل؛ او په استازیتوب یې د پاکستان مقاماتو په جګه غاړه برخه اخیستله. د دې مذاکراتو نتیجه هغسي سوه چي ټولو ولیده. د مجاهدینو مشرانو او قوماندانانو، چي اوس هم د هیواد د ټولو ادارو د چارو واګي په لاس کي لري او د هیواد اساسي قانون، سوله او امنیت یې یرغمل کړي دي، کابل، د لېونیولېوانو د ډلو په څېر، اشغال کړ او افغانستان، په تېره کابل یې داسي تباه کړ چي د هیڅ بېګانه فاتح په وخت کي نه وو تباه سوی. په ټول افغانستان، په تېره بیا کابل، کندهار او ننګرهار کي یې داسي قتلونه، جنایتونه، بې عزتۍ او بې ناموسۍ وکړې چي د هیواد په تاریخ کي یې سابقه نه درلوده. د دې داړه مارانو او بدماشانو یو قوماندان عطا نور، چي ویل کېږي د میلیاردونو ډالرونو څښتن دی او د یوه سلطان په څېر ژوند لري، په خپل زور



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دونه غره دی چي څو ورځي مخکي يې په ټلوېزيوني مرکه کي وويل چي که خارجيان اجازه ورکړي څو ورځو کي ارګ نيولای سي.
اوس دا دی يو ځل بيا د سولي خبرو يو څه زور هغه وخت واخيست چي افغاني الاصله امريکايي ډيپلوماټ ډاکټر زلمي خليل زاد ته د سولي د خبرو د پر مخ بېولو چاري وسپارلي سوې. ډاکټر زلمی خليل زاد، هم د خپل علمي صلاحيت او هم د مجاهدينو له مشرانو سره د تقريباً پنځه دېرش کلن تماس او آشنايی له امله، تر ټولو کسانو او تر بل هر چا پر ځای او معقول انتخاب دی. ما پخپله په هر خصوصي مجلس کي د دې پر ځای انتخاب تائيد او ملاتړ کړی دی. خو زما هيله دا وه چي هغه به له طالبانو سره مستقيم تماسونه پيل کړي او هغوی به يا له امريکايانو او يا له حکومتي مقاماتو سره خبرو ته کښېنوي. ښاغلي خليل زاد، زما او ښايي د ډېرو نورو افغانانو د انتظار په خلاف، بيا هم له خارجيانو سره خبري پيل کړې او په زړه پوري خبره دا ده چي په يوه ځل يې په سيمه کي د پاکستان، منځنۍ آسيا، چين، روسيې، سعودي عربستان او نورو سره د خبرو کولو پلان طرح کړ.
که له ډيپلوماسي او ژورو سياسي او علمي تحليلونو څخه را تېر سو؛ نو د دې خبري معنا به دا وي چي دا ټول هيوادونه د افغانستان په سوله او جنګ، او په تېره بيا د جنګ په دوام کي، خپلي ګټي لري. په دې حساب نو بايد دې ټولو قدرتونو او هيوادونو ته، چي هر يو بايد خپلي جلا جلا دلچسپۍ ولري، قناعت او امتيازات ورکړه سي څو په افغانستان کي له مداخلو څخه لاس واخلي او د سولي په ټينګولو کي همکاري وکړي. که دا ټول هيوادونه، په ريښتيا هم، د افغانستان په روانو جنګونو او بې امنيتيو کي لتاړ وي نو ښايي ګټي يې هم له يوه بل سره په ټکر کي وي. په دې حساب نو دا لاره ډېره اوږده ده او زه بېرېږم چي زموږ حاجي به د مکي پر ځای د ترکستان خواته روان وي.
که د زلمي خليل زاد له تلاښونو څخه، چي ښايی نتيجه ورکړي او يا يې ورنه کړي، را تېر سو نو د افغانستان د سولي خبري او تلاښونه له لومړي سره ډېر خراب پيل سوي ول. د سولي تلاښونه، د دې پرځای چي پر يوه لاس وای او له يوه مرکز څخه اداره سوي وای، له لويه سره، له څومرکزونو څخه پيل سول. زموږ نيکونو او پلرونو خو دا متل هسي بېځايه نه دی کړی چي وايي په ډېرو قصابانو کي غوا مردارېږي. که د سولي له عالي شورا څخه را تېر سو، چي پخواني او اوسني اولسمشر خپلو رقيبانو او احتمالي دښمنانو او مخالفينو ته د رشوت او امتيازاتو ورکولو لپاره جوړه کړې او پراخه کړې ده، او هر وخت يې مشري د سولي ځرګندو دښمنانو، ربانيانو، ګيلاني او خليلي ته ورکړې ده، نو د سولي جريان، چي د افغانستان بېګناه او مظلوم اولسونه، د ژوندي پاته کېدلو لپاره د اکسيجن او وينو په څېر اړتيا ورته لري، نا اهلو کسانو او مرکزونو ته سپارل سوی دی.
يو ځل مو وليدل چي د کوټي په ښار کي يوه دوکاندار خپل ځان اولسمشر حامد کرزي ته د ملامنصور په حيث معرفي کړ او د سولي د خبرو او يا په طالبانو کي د بې اتفاقۍ د ايجادولو په نامه يې څو ځله کابل ته په الوتکو کي پټ سفرونه وکړل او په پلنډو ډالرونه يې واخيستل. دوکاندار په خپله مخه ولاړ او آی ايس آی سازمان يې زموږ په حکومت او امنيت پوري په خلاصه خوله وخنداوه. که حکومت موجود وای او يا د حکومت په مقاماتوکي حيا او شرافت موجود وای نو بايد چي د دفاع له وزير څخه نيولې تر ټولو مسئولو امنيتي مقاماتو پوري يې له خپلو کارونو څخه استعفاوي کړې وای او خپل اولسمشر يې له دايمي شرمولو څخه ژغورلی وای.
څه باندي درې کاله مخکي، زه په کابل کي د لوی اختر له لمانځه څخه وروسته اولسمشر اشرف غني ته نيژدې ولاړ وم چي هغه په خپله وينا کي د طالبانو مشر ملامحمدعمر ته، په ډېر عُجز او زاريو، د سولي او له حکومت سره د مخامخ خبرو پېشنهاد وکړ. درې ورځي وروسته ځرګنده سوه چي ملامحمدعمر څه باندي درې کاله مخکي وفات سوی او طبيعي خبره ده چي د اولسمشر د سولي د خبرو پېشنهاد به يې نه وي اورېدلی. دا چي آی ايس آی به بيا هم څومره را پوري خندلي وي هغه په هر صورت؛ خو څو ورځي وروسته ډاکټر عبدالله، د وزيراو په شورا کي، دا خبره په ټوکو ياده کړه او د هغه طرفدارو وزيرانو په يوه سلا وخندل. ما له ډاکټر عبدالله څخه پوښتنه وکړه چي حکومت خپلو امنيتي ادارو ته په سل هاوو ميليونه ډالره د څه لپاره ورکوي چي هغوی بالاخره له خپل دښمن څخه دومره بې خبره دي چي د هغوی د رهبر له وفات څخه، کلونه وروسته، اطلاع نه لري. که امنيتي اداري په دغه اندازه يې خبري وي او د حکومت نيمايي وزيران او د هغوی مشر په خپل اولسمشر ملندي وهي نو د سولي دې هم خدای مل سي.
دغه کړی، تر هغه ځايه چي زه معلومات لرم، د سولي د حياتي مسلې کارونه، د سولي د عالي شورا رئيس خليلي، چي د جنګ ځرګند طرفدار دی، د سولي د عالي شورا د دارالانشاء رياست، د امنيت رياست، داخله وزارت، د دفاع وزارت، د اولسمشر د ملي امنيت سلاکار او د هغه لويه او پراخه اداره، د اولسمشر کاکا، پخپله اولسمشر او د سولي په چارو کي د هغه ګڼ مشاورين او ارشد مشاورين ټول پر مخ بيايي؛ زياتره له يوه بله بې خبره وي؛ او هر يو يې پر خپل سر ډنګوي. په دومره قصابانو کي بايد غوا مرداره نه سي؟؟!
که امريکا، ناټو او د افغانستان حکومت ته د ملاهبت الله او د طالبانو د لويو مشرانو وژل او د هغوی د جنګي او سياسي مرکزونو له منځه وړل ميسر وي او په لوی لاس دا کار نه کوي نو دا خو د افغانستان له مظلومو اولسونو سره ځرګند خيانت دی. او که چېري هغوی له منځه وړلای نه سي او هغوی ريښتيا هم دونه قوت وي چي هره ورځ او هر آن حکومتي مرکزونه او لوی ښارونه تهديدولای سي او بيا هم د سولي خبرو ته نه ورسره کښېني نو دا هم له


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په خير و لولئ

اولسونو سره د خيانت تر پولي پوري ظلم دی. غر که جگ دی پر سر يې لار سته. که دښمن کمزوری دی نو بايد چي لاسونه يې لنډ کړل سي او که دښمن غښتلی دی او د له منځه وړلو توان يې په چا کي نسته نو بايد چي د سولي کولو او جنګ د پای ته رسولو لپاره شرافتمندانه امتيازات ورکړل سي. حکومت کولای سي چي د امريکا د ډالرو په زور او د کانکريتي او اوسپنيزو قلاوو شاته په کلونو کلونو خپل حاکميت ته دوام ورکړي خو د دې واک او حاکميت دوام د ميليونو انسانانو د وينو، تباهيو او بدمرغيو په بيه تماميږي. زه يقين لرم چي د افغانستان حکومت، د بين المللي ادارو په مرسته، سوله ټينګولای او دا د کلونو رنځ ختمولای سي. خو د سولي دښمنانو او نا اهلو کسانو ته د دې حياتي مسئلي سپارل د وطن پالونکو مشرانو کار نه دی.
په دې وروستيو شپو ورځو کي داسي رپوټونه خپاره سوي دي چي د بلک واټر په نوم امنيتی موسسي مالک، چي په عراق، کي يې په زرګونو بشري جنايتونه کړي، نړۍ او د ملګرو ملتونو موسسه په خبره ده، د افغانستان د جنګ د اجاره کولو پېشنهاد کړی دی. د دې اداري مشر اريک پرينس د امريکا د جمهوررئيس ډانلډ ټرمپ ملګری دی؛ خور يې د امريکا په اوسني حکومت کي د پوهني وزيره ده او له ډېرو زياتو سناتورانو سره له نيژدې پېژني. باوري خبري سرچينو ويلي دي چي اريک پرينس په افغانستان کي د خپل ځان په خبر جنايتکارو قومندانانو سره ، چي يوازي د خپلو مادي ګټو خيال ساتي او په دنيا کي هيڅ ډول پرنسيپ او اصولو ته عقيده نه لري ليدني کتني کړي دي. که دا کار په ريښتيا وسي او د افغانستان جنګ اجيرو عسکرو ته، چي اکثريت يې مسلکي او حرفه اي جنايتکاران دي، وسپارل سي نو دا به د دې مظلوم او بې دفاع هيواد په راتلونکو پېښو کي د تراژيديو يوه بله لړۍ وي.
پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزی بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ